# د ډیجیټلي شمولیت په اړه د کاروونکو د درک لنډیز — پخواني کډوال او مهاجرین چې انګلیسي یې دوهمه ژبه ده





Te Kāwanatanga o Aotearoa
New Zealand Government

Te Tari Taiwhenua
Internal Affairs

# 1. پېژندنه

د ډیجیټلي شمولیت تعریف دا دی چې هرڅوک د ډیجیټلي ټیکنالوژیو په کارولو سره په ټولنه کې د ګډون لپاره مساوي فرصتونه ولري، د ډیجیټلي شمولیت څېړنیز ګروپ، ۲۰۱۷.

د پخوانیو ګوښه کړی شویو مهارجرینو په اړه دا د کاروونکو د تجربو (UX) دا راپور د ډیجیټلي شمولیت د لړۍ یوه برخه ده چې د کورنیو چارو د څانګې (DIA) لخوا پلی شوی ده. د دې لړي هدف دا دی چې د هغه ګروپ خکلو په تجربو باندې پوه شو چې د ډیجیټلی اړخه ګوښه کړی شوي دي.

د دولت په هغه راپور کې چې د مخصوص شوي ډیموګرافیک (جمعیت) په اړه دی، پخواني کډوال او ګوښه کړی شوي مهاجرین هم یو له هغه په نښه شوي ګروپونو له ډلي څخه دي چې د دولتي نوښتونو (پروګرامونو) څخه د نورو په پرتله د کمو مرستو نه برخمن شوي دي.

د راپور دوهمه برخه ولولئ:د ډیجیټلي شمولیت څېړنه: ډیجیټلي شمولیت په ټول حکومت کې په څه ډول لیدل کیږي_کیږي.

څیړنه هڅه کوي چې:

- د پخوانیو کډوالو او ګوښه کړی شوي مهاجرینو د ډیجیټلي شمولیت د سفر خنډونه، ننګوني او دردونکي ټکي په نښه کړي
- په دې پوه شي چې دا ډله د ډیجیټلي شمولیت د چوکاټ له مخې څومره شامله کړی شوي ده.

دا څېړنه په دې وخت کې د نیوزیلنډ په اوتیروا ښار کې د دې ډلي د مېشتېدلو تجربه په پام کې نیسي — لومړی ۳ میاشتي او لومړني ۳ کلونه.

دا څېړنه د ۲۰۲۱ کال د اپرېل څخه د جون تر میاشتي د نیوزیلنډ په شپږو مختلفو ځایونو کې تر سره شوي. ټولی ۴۱ ، ګډونوال د ۲۰ توکمونو استازیتوب کوي. له ګډونوالو سره ژوري مرکې یو په یو او په مخامخ بڼه وي. د اړتیا په وخت کې د حاضر او یا هم د تلیفون په لیکه د ژباړونکو څخه مرسته موجوده وه.

# قدرداني (مننه)

DIA له هغو څخه د زړه له کومې مننه کوي چې خپلې قیصې یې له مونږ سره شریکې کړې او د UXپه څېړنیزه پروژه کې یې ګډون وکړ. د څېړونکي سره د کار کولو له امله د ډیجیټلي شمولیت ټیم هم د توکمیزو ټولنو د وزارت څخه مننه کوي چې له ټولنو ، په شمول د غیر دولتي ارګانونو سره په تماس کې کېدلو کې، تر څو مرکې تنظیم کړی شي او لارښوونه او نظریې ورکړي.

DIA غواړي یادونه وکړي چې په دې راپور کې ښودل شوي معلومات او موندنې د هغو کسانو نظرونه منعکس کوي چې مرکې ورسره شوي او د مختلفو ډلو استازیتوب کوي.

## د راپور معلومات

د Te Tari Taiwhenua د کورنیو چارو وزارت او د توکمیزو ټولنو لپاره چمتو شوی.

د Jas Hua په واسطه ترتیب شوي.

نېټه: ۳۰ نومبر ۲۰۲۱

### اقتباس

Hua J. (۲۰۲۱، نومبر). د ډیجیټلي شمولیت په اړه د کاروونکو د درک لنډیز — پخواني کډوال او مهاجرین چې انګلیسي یې دوهمه ژبه ده. د کورنیو چارو وزارت. https://www.digital.govt.nz/dmsdocument/195~summary-of-digital-inclusion-user-insights-former-refugees-and-migrants-with-english-as-a-second-language/html



# 2. کليدي موندني

دا برخه د اثارو د مطالعې او څېړنې د کليدي موندنو لنډيز کوي، او نور فکتورونه چې د پخوانيو کډوالو او ګوښه کړی شويو مهاجرينو په ډيجيټلي شموليت اغېز کوي.

د پخوانيو کډوالو او مهاجرينو د ډيجيټلي شموليت لپاره لاسرسی او مهارت ۲ اصلي خنډونه دي.

نور فکتورونه چې د دې ګروپ لپاره د ډيجيټلي شموليت په لار کې خنډونه را منځ ته کوي دا دي:

- د انګليسي ژبې کم مهارت
- کلتوري خنډونه
- کمزوری ټولنيز-اقتصادي حالت.

## 2.1. د اثارو د مطالعې لنډيز

په نيوزيلنډ او د دنيا په نوره برخو کې د پخوانيو کډوالو او مهاجرينو چې ،انګليسي يې دوهمه ژبه ده (ESL)، د ډيجيټلي شموليت په اړه پنځه ډاټابيسونه (د معلوماتو ذخيرې) ولټل شوې. د راپور د خلاصې د پلټلو په پايله کې ۳۶ سوانح وموندل شوې. له دې وروسته، هره سوانح (ريکارډ) وڅېړل شو چې د نوموړې څېړنې سره يې تړاو په ګوته شي.

لاسته راغلي معلومات د څېړنې لپاره د يو پلان په جوړلو کې هم وکارول شول.

### د کډوالو او مهاجرينو او د هغوی د تجربو تر منځ توپيرونه

د کډوالو او مهاجرينو ترمنځ روښانه قانوني توپيرونه شتون لري، کوم چې د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلي لخوا د کډوالو او مهاجرينو لپاره د نيويارک په اعلاميه کې (د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلي، ۲۰۱۶) او د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ (UNHCR) لخوا ومنل شو.

کډوال او مهاجرين چې نوي هيواد ته راځي نو له بېلابېلو تجربو څخه تېرېږي. په نيوزيلينډ کې، دا ډلې د نورو دولتي ادارو او دريمګړو ډلو سره په ګډه د Immigration New Zealand (INZ) لخوا د مېشتېدنې مختلفي مرستې ترلاسه کوي.

### د کډوالو او ګوښه کړی شويو مهاجرينو تر منځ اشاره اي توپيرونه

د مهاجرينو يوه ډله شتون لري چې د هغو ننګونو سره مخ دي کوم چې پخواني کډوال ورسره د مېشتېدنې په لړ کې مخامخ شوي وو. په دې کې ټولنيزې، اقتصادي، کلتوري او سياسي ننګونې شاملې دي. دا ډله په نيوزيلينډ کې د Belong Aotearoa او نورو غير دولتي موسسو لخوا د ګوښه کړی شويو مهاجرينو په توګه تعريفېږي. (Belong Aotearoa, UMMA Trust, RASNZ, NZ Red Cross, Asylum Seekers Support Trust, Aotearoa د بيا مېشت شوي ټولني ايتلاف، Family Action (د يوې خيريه موسسې نوم)، ۲۰۲۱).

په پایله کې، د ښځوانیو کډوالو او د هغه ګوښه کړی شویو مهاجرینو تر منځ ،چې د مېشتېدنې لپاره مرستو ته ضرورت لري، په لوړه کچه ورته والی شتون لري. د ښځوانیو مهاجرینو او د کډوالو د نورو ډلو، لکه د مهارت لرونکي مهاجرینو ترمنځ لږ ورته والی شتون لري. په دې څېړنه کې، ښځواني کډوال او ګوښه کړی شوي مهاجرین د اصلي تمرکز لاندې دي.

### د اثارو د بیاکتنې څخه کلیدي مطالب په ګوته شوي

- په دې وروستیو کې د راغلو کډوالو او مهاجرینو لخوا د رسمي سرچینو څخه د آنلاین معلوماتو په کارولو کې خنډونه موجود دي.
- ډیجیټل ټیکنالوژي کډوال او مهاجرین په دې توانوي چې دوی یو له خپلو مهمو اړتیاو څخه پوره کړي: د خپلو ټولنیزو شبکو سره کم بیه اړیکه. ولې، د خپلو ګټو لپاره د ډیجیټلي وسیلو په کارولو کې لاهم خنډونه شتون لري.
- په ډیجیټلي ډول منل شوي خلک غوره ټولنیز شمولیت او هوساینه ترلاسه کوي.

د اثارو په بیاکتنه کې په ګوته ېچیوش دا ۳ کلیدي موضوعات د ډیجیټلي شمولیت د څېړنې اجنډا کې پوښتنو ته په جزوي توګه ځواب ویلو کې مرسته کوي او همدارنګه د دې څېړنې محتوا راپېژني.

د ښځوانیو کډوالو او مهاجرینو لپاره د ډیجیټلي شمولیت خنډونه د نورو فکتورونو په شمول د ټولنیزو، کلتوري، اقتصادي او سیاسي ننګونو، له امله لا وخیم کېږي چې د دوی په نوي کوربه هېواد کې د مېشتېدو په وخت کې رامېنځته کېږي.

داسي انګېرل کېږي چې د ډیجیټلي شمولیت عناصرو ته وده ورکول - هڅونه، لاسرسی، مهارتونه او باور (MAST) - به د دې ګروپ ډیجیټلي شمولیت ته وده ورکړي او له همدې امله د دوی د مېشتېدنې په سفر پورې تړلي عوامل.


## 2.2. د څېړنې د موندنو خلاصه

د څېړنې موندنې د MAST د چوکاټ په رڼا کې تحلیل شوې، کوم چې د لاندې ۴ یو پر بل پورې تړلي عناصر په کې شامل دي: هڅونه، لاسرسی، مهارتونه او باور.

### هڅونه

ځیني ښځواني کډوال او ګوښه کړی شوي مهاجرین NZ ته د راتلو دمخه د ډیجیټلي وسایلو ، انټرنیټ یا آنلاین خدماتو تجربه نلري. دا د دوی په پوهه کې هغه تشې رامېنځته کوي کوم چې د ډیجیټلي ټیکنالوژیو په واسطه لاسته راوړل کېدای شي.

د اړتیاوو درجه بندي لومړیتوب غوره کوي، او د زده کړې لپاره ذهني شتون کم دی. د هغو کسانو لپاره چې د ډیجیټلي ټیکنالوژیو په ټولنیزو او اقتصادي ګټو پوهېږي، دا ګټې اړوندو وسایلو ته د نه لاسرسي او د مهارتونو د نشتوالي له امله نه ترلاسه کېږي. په بهر کې د کورنیو او ملګرو سره اړیکه د دې ډلې لپاره تر ټولو لویه انګېزه او د سمارټ فونونو (موبایلونو) ډېرې کارول دي.



> "دي له ما نه ډیر وخت واخیست ، حتا ملګرو یا ټولګیوالو چیرې چې ما ورسره زده کړه کوله، دوی دمخه سمارټ فونونه ترلاسه کړل او نور هم په راڅرګندېدلو شول. ما سمدستي سمارټ فون نه درلود. ولې، زه په دې نه پوهېدم چې دا یو خنډ وو، ځکه چې زه په دې نه پوهېدم چې سمارټ فون څه کولی شول. او زه د خپل ژوند له طرز سره خورا عادت وم تر هغه چې زما ټیلیفون مات شو. او بیا مې باید یو نوی ترلاسه کړی وای. او مور بیا د مور او د ځان لپاره یو سمارټ فون ترلاسه کړ. دې ۳ کاله ونیول."
>
> — د ښېرني ګډونوال

## لاسرسی

د غټو وسایلو کله لپټافونه، د موبایل ډاټا او پلانونه (بستې)، او د کور نه ختمېدونکی (نامحدود) انټرنېټ، لګښت د دې ګروپ لپاره یو له عمده خنډونو څخه دی. د وړیا عامه وایفای سره نادوامداره (غیر دوامداره) ارتباط ، ټیټ سرعت یا محدود ، یا د پورټنیو ټولو، راپور ورکړل شوی.

دولتي خدماتو ته د لاسرسي لپاره، مخامخ کتنه د مهمو کارونو د تر سره کولو او د مسلو او پوښتنو د حلولو لپاره لا تر اوسه د یوې اغېزمنې لارې په توګه لیدل کېږي.

په اولو ۳ میاشتو کې، مخامخ کتنه یا هم د ترجماني (ژباړنې) خدمتونو سره ټیلیفوني تماس د خدمتونو ته د لاسرسي غوره لارې دي. د دې ګروپ لپاره انټرنېټ، وسایلو او مهمو خدمتونو ته د لاسرسی لپاره، که آنلاین وي او یا آفلاین، د ټولنیزو شبکو لکه د رضاکارانو، د مېشتېدنې د کارکوونکو، د کورنی د غړو او یا هم د ټولنې د غړو مرسته مهمه ده.

د انګلیسي ژبې خنډونه، په توکمي ژبه کې د معلوماتو کمښت، محدود ډیجیټلي مهارتونه او د آنلاین سیستم د کار کولو سره د نابلدي له امله د خپل ځان لپاره د خدمت آنلاین لاسرسی امکان نه لري. دا لړۍ د دې ډلې د اکثریت لپاره په NZ کې د استوګنې په لومړیو ۳ کلونو کې تر ډېره بدلون نه مومي.

د هغو کسانو لپاره چې د آنلاین د خپل ځان لپاره د خدمت کارولو لپوالتیا لري، دا وخت نیسي ځکه چې دوی اړتیا لري آنلاین د ژباړې وسیلې وکاروي ترڅو دوی سره د محتوا او اپلیکېشنونو په پوهېدو کې مرسته وکړي. له دې هڅو سره سره بیا هم د پوښتنو، شرایطو او تخنیکي لغاتونو سره مرستې ته اړتیا لري.

"موږ مخکې له دې چې راشو د نیوزیلنډ په اړه هیڅ نه پوهېدو. په اصل کې، کم وخت مخکې له دې چې موږ نیوزیلنډ ته راشو، موږ ته د نیوزیلنډ په اړه لږ څه معلومات راکړل شول. که ریښتیا ووایو، موږ نه پوهېږو چې نیوزیلنډ څېرته دی. کله چې زه دلته د بیا میشتیدنې ادارې ته ورسېدم، دوی ما ته رضاکار مرستندوی چمتو کړ، هغې زما لپاره تقریباً هر څه وکړل، لکه څنګه پیرود ته ولاړ شم، څنګه د خپل بانک کارت وکاروم، څنګه کار ته لاړ شم او عاید، یا څنګه ښوونځي ته لاړ شم، څنګه په بس کې ولاړشم یا هر څه هغه څه دي چې دا مرستندویه کارکونکی زما سره مرسته کوي او زما لارښوونه کوي او زما مرسته کوي ترڅو په نوې ټولنه کې میشت شم."

— د څېړنې ګډونوال

## مهارتونه

داسې شواهد شتون لري چې د ډیجیټلي مهارتونو روزنه په توکمي ژبه کې وړاندې کول، بې د انګلیسي ژبې له مهارت څخه، د ډیجیټلي مهارتونو د ترلاسه کولو پروسه اسانه کوي. ولې، د ډیجیټلي مهارتونو په کچه کې باید روښانه جلاوالی موجود وي، ترڅو روزنه اغېزمنه وي. باوري ټولنې د منځګړیتوب په توګه غوره ځای په ځای شوي ترڅو د پوهې په لیږد کې مرسته وکړي، ملاتړ چمتو کړي، او د ډیجیټل مهارتونو روزنه اسانه کړي.

د دې ګروپ لپاره تر ټولو ۳ غوره ډیجیټلي مهارتونه دا دي:

1. د آنلاین راکړه ورکړې مهارتونه
2. د آنلاین خوندیتوب او امنیت مهارتونه
3. د آنلاین معلوماتو او محتوا د اداره کولو مهارتونه.

تر ټولو لوړ ۵ مخصوص ډیجیټلي مهارتونه چې دا ګروپ غواړي په کې وده وکړي دا دي:

1. په کلوډ (انلاین ذخیره) کې د معلوماتو ذخیره کول او هغه ته له مختلفو وسایلو څخه لاسرسی
2. د وسایلو دوامداره اپډیټ کول تر څو د وایرسونو او خطرونو مخه ونیسي
3. آنلاین د خپلو پیسو او راکړه ورکړې په خوندي توګه اداره کول
4. عامه خدمتونو ته لاسرسی، د بېلګې په توګه، د موټر راجسترول، MyMSD
5. د توکو او خدمتونو لپاره آنلاین پیسې ورکول.

څنګه چې زیاتی روزنه په انګلیسي ژبه ورکول کېږي، نو د انګلیسي ژبې کم مهارت د ډیجیټلي مهارتونو په لاسته راوړلو کې یو ډېر عمده خنډ دی.

> "وړيا ټولګي د لويانو لپاره خورا مهم دی ځکه زما مطلب د لويانو لپاره، سره له دې چې موږ کمپيوټر لرو، ډيری خلک نشي کولی [هغه] خلاص کړي، نه پوهيږي چې څنګه يې وکاروي، نو د کمپيوټر دا ډول کورس د دوی لپاره خورا مهم دی. مګر دوهم مشکل دا دی چې دا کورس په انګليسي کې درس ورکوي. يو بله غټه ستونزه شتون لري. نو که تاسو داسې څوک ولرئ چې زموږ په ژبه موږ ته درس راکړی شي، دا به ډېر زيات وستايل شي. ځکه چې اوس،ټکنالوژي هر ځای شته. نو په دې مرحله کې، هر څوک اړتيا لري چې کم تر کمه په بنيادي کورس پوه شي. او لکه څرنګه چې موږ وويل، حکومت او زياتې موسسې دا وړيا کورسونه تهيه کوي، مګر زموږ لپاره لا هم ستونزمن دی. ځکه چې موږ نه پوهيږو، ډېری خلک په انګليسي نه پوهيږي. د کمپيوټر په اصطلاحات پوهيدل ډير ستونزمن دي."
>
> — د څېړنې ګډونوال

د ژوندانه د لومړنيو اړتياوو د پوره کولو په برخه کې لومړيتوب او په ځان کم باور په روزنيزو ټولګيو کې په دوامداره توګه حاضرېدو باندې اغېزه کوي.

په دې ګروپ کې ښځې د ډيجيټلي مهارتونو د ټيټې کچې او د روزنې په ټولګيو کې د ګډون لپاره د فرصتونو او ملاتړ د نشتوالي له امله د ډيجيټلي ګوښه کېدو له لوی خطر سره مخ دي په ځانګړې توګه د کورنې پاملرنې دندو له امله، بيا د ټېونو او ناروغيو له امله.

## باور

د شخصي معلوماتو ــ په شمول د کرېډېټ کارت او د بانکي اکونټ معلومات ــ د غير اړونده موخو لپاره د تعقيبولو، بندولو او راټولولو وېره د بې باوري له لويترينو عواملو څخه دي. دا د آنلاين راکړه ورکړې په ترسره کولو کې خنډونه رامينځته کوي لکه آنلاين پېرود، آنلاين بانکداري او د کليدي خدماتو لپاره آنلاين پيسي ورکول.

> "تر ټولو د اندېښنې وړ او بې اعتباره شی چې زه يې نه خوښوم د هويت غلا ده تاسو پوهيږئ، ستاسو د معلوماتو لپاره، محتاط اوسئ ځکه چې تاسو نه پوهيږئ چې دا خلک به يې واخلي او تاسو ډاډه نه ياست چې که تاسو سم کار وکړ چې تاسو هغه فورمه ډکه کړه."
>
> — د څېړنې ګډونوال

د سايبر جرمونو پخوانی لومړی يا دوهم لاس تجربې لکه آنلاين درغلی، ټګي، او هکونه هم په ډيجيټلي نړۍ باندې باور کموي.

ټولنيزې شبکې تر ټولو باوري دي، وروسته دولتي ويب پاڼې، چينلونه او د بانکونو، مخابراتو او خبرونو مشهور برانډونه. ټولنيز نفوذ هم يو مهم فکتور دی چې د ډيجيټلي ټيکنالوژيو پلي کول اسانه کوي.

## 2.3. نور فکتورونه چې د دې ګروپ ډیجیټلي شمولیت اغیزمن کوي

د ډیجیټلي شمولیت په چوکاټ کې د ۴ عناصرو سربېره، نور عوامل هم شتون لري چې د دې ګروپ ډیجیټلي شمولیت اغېزمن کوي.

### د انګلیسي ژبې د مهارت کمی او د خدماتو د شتون په اړه پوهاوی

د انګلیسي ژبې مهارت او په توکمي ژبو کې د سرچینو نشتوالی د دې ډلې ډیجیټلي شمولیت لپاره اوږدمهاله خنډونه دي.

دا د پوهاوي د کموالي یا په NZ کې د کارونو د کولو د څرنګوالي په اړه د پوهاوي د کموالي له امله ډېرېږي، او کوم دولتي معلومات او خدمات شتون لري، په ځانګړې توګه د هغو کسانو لپاره چې د حکومت د بیا مېشتېدنې د پروګرامونو لپاره یې شرایط نه دي پوره کړي.

> "زما مطلب دا دی چې، د موجوده ټیکنالوژی په پرتله ، هرڅه خورا ستونزمن وو. مګر پخوا، ځکه چې زه په بشپړه توګه خبر نه وم چې کلیدي خدمتونه څه دي، ځکه چې تاسو په په هغه وخت کې په هغه څه چې نه یې لرئ په بشپړ ډول نه پوهیږئ، نو تاسو صرف هغه څه کوئ چې تاسو یې لرئ او حتی فکر هم نه کوئ چې 'اوو دا ستونزمن دی'، تاسو یې فقط کوئ."
>
> — د څېړنې ګډونوال

### کلتوري خنډونه

د پوهاوي د لوړولو یا د دولتي خدماتو په وړاندې کولو کې، او یا د دواړو په کولو کې – په ځانګړې توګه چې آنلاین وي - باید کلتوري ځانګړتیاوې په پام کې ونیول شي، یا دواړه ترسره کول - په ځانګړې توګه که دا آنلاین وي. ځینې کلتورونه د پوښتنې کول یا د مرستې غوښتل د شرم وړ کڼي. ځینې خلک نه غواړي چې د نورو لپاره د سردرد په توګه جوت شي. دا د خدماتو چمتو کوونکو ته د فیډبک (نظرونو) د نشتوالي لامل کېږي ، په ځانګړې توګه کله چې خدمتونه آنلاین یا آفلاین بڼه نه وړاندې کیږي - د مثال په توګه ، د ټیلیفون له لارې یا د خدماتو په مرکز کې.

> "لکه د مرستې لپاره پوښتنې کول یا دې ته ورته ... ځکه چې کلتور یو څه شرم دی چې پوښتنه وکړئ: ایا تاسو زما سره مرسته کولی شئ؟ [په پسمنظر کې] زه به دا په بل ډول وکړم، زه به پوښتنه وکړم حتی که زه نه پوهېدم."
>
> — د څېړنې ګډونوال

### ټولنیز-اقتصادي حالت

ټیټ ټولنیز-اقتصادي حالت د دې ګروپ د ډیجیټلي شمولیت په وړاندې یو بل خنډ جوړوي، په ځانګړې توګه د ډیجیټلي وسایلو، د موبایل ډاټا او پلانونه، او د کور لامحدود انټرنیټ ته لاسرسی. دا د MAST په چوکاټ کې د هڅوني، لاسرسي او مهارتونو په عناصرو اغېز کوي ځکه چې د ټولنیز - اقتصادي شرایطو ښه کول وخت نیسي.

### د تعلیم لاسته راوړنه

داسې برېښي چې د لوړو زده کړو لاسته راوړل د لوړې کچې ډیجیټلي شمولیت سره په ځانګړي توګه د مهارتونو عنصر کې تړاو لري. دا په هغو پخوانیو کډوالو کې لیدل کېږي چې په NZ کې یې لوړې زده کړې تعقیب کړي یا یا تعقیبوي او په ځینو مهاجرینو کې چې د لوړو زده کړو سابقه لري.

## 2.4. ډیجیټلي شمولیت او هوساینه

### ټولنیزو خدمتونو ته لاسرسی

ډیجیټلي شمولیت د اوږدې مودې لپاره ټولنیزو خدماتو ته د دې ډلې لاسرسی په جزوي ډول اغېزمن کوي ، په ځانګړي توګه آنلاین د ځان لپاره د خدمت په لور د خوځښت سره. د دې ډلې لپاره، ټولنیز خدماتو ته د لاسرسي توپیر او د دوی د پخواني هیواد او NZ ترمنځ د لاسرسي طریقې منعکس کېږي. دا د انټرنیټ او ډیجیټلي وسیلو ته د لاسرسي د پخوانی تجربې د نشتوالي او د ډېریو پخوانیو کډوالو او مهاجرینو لپاره د انګلیسي ژبې ټیټ مهارت له امله نور هم زیات شوي. دا آنلاین ټولنیزو خدماتو ته لاسرسی ستونزمن کوي.


په NZ کې د دوی په لومړیو ۳ میاشتو کې، د رضاکارانو، د مېشتېدنې د کارکوونکو، کورنی، ملګرو او د ټولنې د غړو ملاتړ اړینو خدماتو ته د لاسرسي لپاره کلیدي ده. د لاسرسي غوره طریقې مخامخ کتنه او ټیلیفوني تماسونه دي. دا لړۍ په لومړیو ۳ کلونو کې بدلون نه مومي.

### ټولنیز اړیکه او فردي هوساینه

د سمارټ فونونو ارزانتیا، په NZ کې د نسبتا باثباته انټرنیټي اتصال په مرسته، لکه په کور کې وایفای، د دې ډلې لپاره د دوی د کورنیو سره د اړیکو لپاره اقتصادي او ثابته لاره رامینځته کوي. له همدې امله، ډیجیټلي شمولیت دې ډلې ته توان ورکوي چې په بهر کې کورنی او ټولنیزې اړیکې وساتي که نه نو په بل ډول ناشوني وي. دا په مستقیم ډول د یوازېتوب او انزوا د احساس په کمولو سره د دوی هوساینې ته ګټه رسوي ، په ځانګړې توګه د نویو رارسېدونکو لپاره.

کله چي د انټرنېټ شبکه ګډوډه شي ، نو د دوی په فردي هوساینې منفي اغېزه کوي که چېرې دا ډله د دوی د وضعیت په اړه د خپلو بهرنیو کورنیو سره اړیکه له لاسه ورکړي. په NZ کې یو څنډ ممکن د ډاټا د بستې د ختمېدو یا د انټرنېټ د خرابېدو له امله وي. د دوی په اصلي هېواد کې، د شبکې زېربنا یا ارتباط ممکن د ټولنیزو - سیاسي پېښو یا د انټرنېټ د لوړ لګښت له امله ګډوډ شي.

> "زه خپل مور او پلار، زما ورور او ۲ خویندې هم په کور کې لرم. له بده مرغه دوی په ښه وضعیت کې نه دي ځکه چې په هغه سیمه کې دوامداره جګړه روانه ده. په هغه اړه فکر کول اندېښمن کوونکي ده. دا خورا سخت دی ځکه چې شبکه هر ځل خرابه وي. نو زه هرومرو هغوی ته مستقیم زنګ وهم. زه هغوی ته د زنګ وهلو لپاره مختلف اپلیکېشنونه کاروم، ځکه چې نورمال خدمتونه کار نه کوي او یا ما ور سره وصل کړي. هو، ما همدا اوس هغه اپ انسټال کړ. دا مونږ چارج کوو (پیسې ور اچوو) او مستقیم زنګ ور ته وو که کار وکړي. او دا اوس کار نه کوي."
>
> — د څېړنې ګډونوال



# 3. پایله او سپاربښتنې

د دې ډلې د اکثریت لپاره، د دوی په ډیجیټلي شمولیت کې د لومړیو ۳ میاشتو او لومړیو ۳ کلونو د اوسېدو د مودې په پرتله کولو کې ډېر پرمختګ شتون نلري. په هرصورت، د هغو کسانو لپاره چې په NZ کې د اوږدې مودې لپاره مېشت دي د ډیجیټلي شمولیت د ښه والي احساس شتون لري - د بیلګې په توګه، د ۱۰ کلونو څخه ډېر.

دا یو فرصت رامینځته کوي چې د دوی د مېشتېدو سفر کې د لاسرسي او مهارتونو عناصر په پیل کې په ګوته کولو سره د دې ګروپ د ډیجیټلي شمولیت سفر ګړندی کړي.

ټولنیزې شبکې لکه رضاکاران، د مېشتېدنې کارکوونکې، ټولنه او د کورنۍ غړي تر ټولو باوري سرچینې دي، وروسته رسمي دولتي چینلونه او وېبپاڼې. له همدې امله، دا شبکې باید نورې هم وکارول شي، او چینلونه او وېبپاڼې باید په ټولیېزه توګه ډیزاین شي ترڅو د دې ګروپ په ډیجیټلي شمولیت کې مرسته وکړي.

لاندې سپاربښتنې د څېړنې د موندنو پر بنسټ دي، نه د حکومت د پالیسی سپاربښتنې.

## د لاسرسی د ستونزو د حلولو فرصتونه

هغه اقدامات چې د لاسرسی د ستونزو په حلولو کې مرسته کوي، په شمول د وړاندې کولو د:

- د مختلفو مالي طریقو له لارې د وسیلو لکه د لپټاپونه او د انټرنېټ د وصلولو له لارې چېرې چې دا د اغېزمن چلند په توګه ارزول شوي وي. د پوهنې د وزارت د مساوي ډیجیټلي لاسرسي برنامه د بریالي چلند یوه بېلګه ده
- د اړینو دولتي او غیر دولتي خدماتو په شمول کلیدي آنلاین خدماتو ته وړیا انټرنېټي لاسرسی
- د ټولنې ځایونه لکه عامه کتابتونونه او د عبادت ځایونه چېرې چې د ډیجیټلي مهارتونو د روزنې او د وسایلو دستګاوو ته لاسرسی ولرلی شي.

## فرصتونه چې د مهارتونو ستونزې حل کړی شي

د مهارتونو د مسلو په حل کولو کې د مرستې لپاره، هغه اقدامات چې ګوندې مرسته وکړي، د لاندې شیانو تهیه کول شامل دي:

- د باور وړ منځګړو له لارې په توکمیزو ژبو کې د ډیجیټلي مهارتونو روزنه ترڅو هغه وخت را کم کړی شي چې دا ډله په کې په ډیجیټلي ډول ګوښه کړی شو وي (بې برخې وي)
- په توکمیزو ټولنو کې د مېرمنو لپاره هدفي او هر اړخیزه ملاتړ ، په ځانګړې توګه د کورنۍ د پاملرنې د دندو په اړوند ترڅو دوی وکولی شي په روزنیزو ټولګیو کې برخه واخلي
- د ډیجیټلي مهارتونو روزنه، د لاسته راوړنو د روښانه مرحلو سره، ترڅو دا اغېزمنه او پیاوړې کوونکې وي، د بیلګې په توګه، د سمارټ فون د ځانګړې ډیجیټلي مهارتونو روزنه د پیل د ټکي په توګه مخکې له دې چې په لویو وسیلو لکه لپټاپونو کې د ډیجیټل مهارتونو ډېر پېچلي روزنې ته وده ورکړي

- د دې ګروپ لپاره د ۳ تر ټولو مهمو ډیجیټلي مهارتونو په برخه کې عمیقه روزنه: د آنلاین راکړه ورکړې مهارتونه، د آنلاین خوندیتوب او امنیت مهارتونه، او د آنلاین معلوماتو او محتوا د اداره کولو مهارتونه. په دې کې باید کلیدي آنلاین خدماتو ته د لاسرسي په اړه روزنه شامله وي لکه myIR، MyMSD، انلاین مهاجرتي اکونټ ، او آنلاین بانکداري.

## نورې پاملرنې

د دې لپاره چې په NZ کې مېشت پخواني کډوال او له پامه د غورځول شوي مهاجرینو ډیجیټلي شمولیت کې مرسته وشي، په پام کې ونیسئ:

- د انګلیسي ژبې د مهارت روزنې ته لومړیتوب ورکولو ته دوام ورکول
- په توکمیزو ژبو آنلاین سرچینې چمتو کول، په ځانګړې توګه د کلیدي خدماتو لپاره
- د پخوانیو کډوالو او له پامه غورځول شویو مهاجرینو چې انګلیسي یې دوهمه ژبه ده ESL لپاره د ډیجیټلي شمولیت روزنې برخه د بیا مېیشتېدنې د برنامې برخه جوړول
- د لومړیو ۲ نه تر ۵ کلونو پورې د ډیجیټلي شمولیت په زیاتولو کې د لا زیاتې پانګونې
- د اوږدمهاله څېړنو په واسطه د ډیجیټلي شمولیت د لومړنیو مرستو اغېز د مېشتېدلو په پایلو
- په NZ کې د دې ګروپ د ډیجیټلي شمولیت وضعیت د دوی د مېشتېدلو او د مېشتېدلو د پایلو په رڼا کې اندازه کول او تعقیبول.

> "زه له بهر ښځه راغلې یم، تاسو ما ته انګلیسي را زده کړئ، او زه د هغه ژبه زده کړم، او زه دلته کار وکړم، زه مالیه ورکړم، زه له حکومت سره مرسته کوم. تر څو زه بې فایدې نه شم، زه به ګټور یم.
>
> کله چې تاسو ما ته ریاضي او انګلیسي را زده کړئ، زه به ډېر ګټور واوسم. زه د بل هر وخت څخه غټ کار کولی شم.
>
> کله چې تاسو ما ته کمپیوټر را زده کړئ، تر څو زه د IT (معلوماتي ټکنالوژي) ، انګلیسي او ریاضي په اساساتو پوه شم. زه به په راتلونکي کې یو ماهر یم او د نیوزیلنډ په چټکه وده کې به مرسته وکړم."
>
> — د څېړنې ګډونوال



# 4. منبعې (موخذونه)

Belong Aotearoa, UMMA Trust, RASNZ, NZ Red Cross, Asylum Seekers Support Trust, Aotearoa Resettled Community Coalition, and Family Action. (2020). 'Understanding social work provision to former refugees and marginalised migrant communities in Auckland.' (PDF, 1.650 MB). https://static1.squarespace.com/static/5cca54599e483d0001fff53b/t/5f10c712d863ea7a41fc368a/1594935071412/Social+Work+Research+Report+FINAL_2020.pdf

Department of Internal Affairs. (2019, May). 'Digital inclusion stocktake: What digital inclusion looks like across government.' https://www.digital.govt.nz/dmsdocument/155-digital-inclusion-stocktake-what-digital-inclusion-looks-like-across-government/html#executive-summary

Digital Inclusion Research Group. (2017, May). 'Digital New Zealanders: The Pulse of our Nation.' MBIE and DIA. https://www.mbie.govt.nz/dmsdocument/3228-digital-new-zealanders-the-pulse-of-our-nation-pdf

UN General Assembly. (2016, October 3). 'New York Declaration for Refugees and .Migrants: resolution / adopted by the General Assembly.' Refworld https://www.refworld.org/docid/57ceb74a4.html

UNHCR. (2018, August 31). 'Refugees' and 'Migrants'— Frequently Asked Questions (FAQs).' Refworld. https://www.refworld.org/docid/56e81c0d4.html



digital.govt.nz